په اخيري وخت کې به داسې خلک راڅرګند شي چې عمرونه يې لږ او عقلونه يې کم وي، د مخلوق تر ټولو ښه وينا به کوي، خو له اسلامه به داسې وځي لکه غشی چې له لينديږ ځخه وځي

له علي رضي الله عنه څخه روايت دی (وايي) کله چې زه تاسو ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم حديث بيانوم، نو دا چې له اسمان څخه لاندې راپريوځم راته ډېره غوره دي لدې چې په رسول الله صلى الله عليه وسلم درواغ ووايم، او کله چې تاسو سره هغه خبرې کوم چې زمور او ستاسو تر منځه خپلمنځي خبرې دي، نو جنګ دوکه ده، ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «په اخيري وخت کې به داسې خلک راڅرګند شي چې عمرونه يې لږ او عقلونه يې کم وي، د مخلوق تر ټولو ښه وينا به کوي، خو له اسلامه به داسې وځي لکه غشی چې له لينديږ ځخه وځي د دوی ايمان به تر ستوني هاخوا نه تېريږي، نو هر چېرې چې ورسره مخ شوئ، ورسره وجنګېږئ او ويې وژنئ؛ ځکه د هغوی وژل د هغه چا لپاره د قيامت په ورځ اجر دی چې وژلی يې وي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

امير المؤمنين علي بن ابي طالب رضي الله عنه وايي چې کله مې تاسو ته د نبي صلى الله عليه وسلم خبرې کولې، نو زه به د کنايې کلمې ونه کاروم، نه به ځان هاخوا ديخوا کړم او نه به هېڅ شی پټ کړم، بلکې زه به په زغرده خبرې وکړم، او دا چې له اسمان څخه راولېږم دا راته ډېره اسانه ده لدې چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په اړه خبرې وکړم او دروغ پرې ووايم، او کله چې هغه خبرې کوم چې زما او د خلکو تر منځه دي، نو جګړه دوکه ده، کېدی شي يوه کنايه وکاروم، يا ځای هاخوا ديخوا کړم او يا خبره پټه کړم، يقينا چې ما له نبي صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: په وروستۍ زمانه کې به داسې کم عمره ځوانان راشي چې عقلونه به يې کمزوري وي، دوی به د قرآن کريم څخه خبرې کوي او ډېر به يې تلاوت کوي، خو دوی به له اسلام څخه وځي او له حدودو څخه به يې داسې تېريږي لکه څنګه چې غشی له لينديږ ځخه وځي، د دوی ايمان به د دوی له ستوني څخه نه تېريږي، نو هرچېرې مو چې دوی ومومدل، ويې وژنئ، ځکه د دوی وژل به د قيامت په ورځ د هغه چا لپاره اجر وي چې دوی يې ووژلي وي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65868